# AFGHAN PAROLE INFORMATION

## امریکا ته د راغلو او راتلونکو افغانانو د محدودو او مشروطو آزادیو خبرتیا

د امریکا متحده ایالاتو ته ښه راغلاست. ستاسی دکارو او اسنادو اجرآت دمتحده ایالاتو دګمرکونو او سرحدونو دمحافظت دشعبو دخوا اجرا کړه سوه او د فوری بشردوستی ددلایلو په خاطر، دامریکا د قانون داتمی (۸) مادی لمبر ۱۱۸۲ ثی (د) (۵)، په اساس
ددو ۲ کلو دپاره په امریکا کی د محدودو او مشروطو آزادیو په چوکاټ کی آزاد سولاست. ستاسی ازادی په امریکا کی د لاندنی شرایطو او مقرراتو به اطاعت او پیروی پوری مربوطه او مشروطه ده:

## ستاسی د حملو نقل مصارف ترامریکا د اجراآتو او مرستی تر مرکزه پوری په تاسی اړه نه لری (هغه مفت دی)

تاسی ته به دامریکا تر اجراآتو او مرستی تر مرکزه پوری انتقال درکړه سی او هلته به مفت خواړه، داوسیدو ځای، ضروری طبی واکسینونه او نور معاینات درته مهیا کړه سی او په فرصت سره به ستاسی دکار داجازی اسناد هم تکمیل کړه سی.
تاسی به په موقتی توګه په طبی بیمه کی هم شامل سی او طبی معاینات به مو اجرا کړه سی که ضروری وی. **داجراآتو مرکز به دغه لاندی تشریح سوی لازم طبی اجراآت هم اجرا کړی.**
کله چی دغه مرحلی تکمیل کړه سی، د متحده ایالاتو حکومت به وامریکا ته ستاسی دآخری منزل د سفر ترتیبات یا بندو بست وکړی. تاسی ته به موقع درکړه سی چی دغیر دولتی موسسو سره تماس وکړئ چی هغوی بیله امریکا دحکومته آزادانه او په خپل واکه توګه
خپل فعالیت کوی او ممکن په امریکا کی ستاسی داوسیدو او میشته کیدو کی ستاسی سره مرسته وکړی.

## دمشروطی ازادئ طبی شرایط

دمشروطه ازادئ د اوو ورځو په وخت کی تاسو مجبور یاست چی:

- د ام ام آر، پولیو، اوله برخه د کورونا یا کوویډ واکسین وکوی، که دکوویډ د واکسین دلګه ولو پخوانی ثبوت ونه لرئ.
- دسل یا توبرکلوزدمرض معاینات وکړی که معاینات یی مثبت وی مناسبه انزوا او تداوی یی وکړی، او
- دلازمی تطابق ریپورټ دمتحده ایالاتو د تابعیت او مهاجرت دخدماتو اداری ته په لاندی پته ورکړی:
  www.uscis.gov/vaccination-status

که تاسی معین او ټاکل سوی حکومتی دواکسین دخدماتو مرکزو ته دواکسین دپاره مراجعه ونه کړی، بیا به تاسی پخپله (په خپل مصرف) د معایناتو او دواکسین لګهولو مسؤله یاست.

## دمشروطه آزادیو نور شرایط

مطابق د اتمی ۸ مادی دامریکا د مقرراتو لمبر یو اس ثی ۱۳۰۲ ای ټی او ستاسی دمشروطه ازادئ د شرایطو په اساس، تاسی باید دخپل آدرس یا داوسیدو دځای بدلون یا تغیر د امریکا دګمرکاتو اود مهاجرت خدماتی مرکز ته ولیږئ په لاندی ایمیل آدرس باندی:
www.uscis.gov/addresschange

- تاسی باید حتمی په ظرف کی د ۳۰ ورځو یا ژر د امریکا دګمرکاتو او مهاجرت اداری ته د خپل آدرس یا داوسیدو دځای دبدلون خبر ورکړی.
- تاسی باید د عامی روغتیا ټولو لاربښوونو او مقرراتو سره موافقت وکړی، دکورنی امنیت او فدرالی پولیسو یا اجنټانوداضافه معلوماتو دخواهش امر پرځای کړئ او د محلی، ایالتی، دسټیټ او فدرالی قوانینو او مقرراتو اطاعت وکړی.
- ممکن تاسی د نورو شرایطو مسؤلیت تر مشروطه ازادیو ترحد اضافه هم ولری، البته دغه کیس په کیس پوری ربط لری.

## دمشروطه ازادئ دشرایطو سره نه تطابق یا دهغونه اجرا

ددغه شرایطو نه پر ځای کیدل یادهغو اطاعت نه کول به ستاسی مشروطه ازادی در سلب یا باطله کړی، په امریکا کی به توقیف او بیا خارج کړه سی او دغه به په امریکا کی ستاسی پراقامه یادایمی استوګنی اونوری دمهاجرینوګټی چی تاسی یی اوس مستحق یاست
هم بد تاثیر ولری.

*More information and resources, including information about immigration benefits, can be found at www.uscis.gov.*